AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح الدين سعيدی ۲۰۲۴/۰۴/۰۷

# د کابل د څرخي پله زندانيان

خبر وايي چې د کابل د څرخي پله له زندانه د کوچني اختر په مناسبت د اسلامي امارت د مشرتابه!؟ په امر له زندانه ۴.۶ زندانيانو خوشي شول .
په دې تړاوپوښتنه راولاړېږي چې دا زندانيان د کوم مدون او مشروع قانون پر اساس او بنسټ نيول شوي، د توقيف دوره کې او څه موده کې توقيف، څه دوره کې متهم شوي او يا د کومې محکمې په حکم زنداني شوي او جيل ته اچول شوي او د کومې محکمې د حکم پر اساس يې حکم نهايي شوای، څومره يې د زندان موده ( کتګوري) تېره او اوس د کومې قاعدې پر بنسټ له زندانه خوشي شول؟
ددې پوښتنو له پوره ځوابه پرته، په شخصي علايقو او تصاميمو، و لو دلسوزانه او ګويا عادلانه د بو هېواد د وګړو آزادي سلبول، له مشروع او د مدون، مخکې د اتهام نه د نافذ قانون او د اجراآتو د مدون او مشروع قانون نه پرته او ددې قوانينو سره سم له تحقيق، د مشکوک او متهم د حقوقو د ساتلو پرته، د وکيل او مدافعې نه پرته، د توقيف او محکوميدو د وخت د معلومېدو نه پرته ، د قرون وسطى د حدس او ګمان او شخصي تصاميمو او پرېکړو پر بنيادو لو ظاهراً عادلانه کړنلارې، د انسان آزادی سلبول، نه اخلاقي، نه انساني، نه قانوني اونه هم اسلامي کار دی !

نور څومره زندانيان، په کومو رسمي توقيفګاهو او زندانو کې لرئ او د کوم قانون، کوم اتهام نامې، کوم نهايي حکم او کومو مدونو او مشروعو ، د توقيف نه له مخکې مدون او چوکاټ شوي مشروع عدالت پر بنياد ددوی آزادي او حقوق سلب شوي .
آيا تاسي ددې خبرې په مانا پوهېږئ چې توقف جزا نه ده او تدبيري عمل دی چې د قانوني مدونو شرايطو له وجوده، او د مشروع مدونو قوانينو له وجوده بېرته د عدالت سره دبنمني او نامشروع کار دی؟
دا ويل چې د اسلامي قوانينو پر بنياد عمل شوای له سره کافي نه ده او ستره دوکه او عوامفريبی ده .
اسلامي قوانين په ۱۴ قرنو کې زياد او شخصي فتاوې زياتي دي .
مونږ مشروع، مدون او نافذ قوانين او د هغو په چوکاټ کې اسلامي عدالت او عمل غواړو. دا په هېڅ توګه د اسلامي قوانينو د تطبيق سره مخالفت په مانا نه دی او مسلمان د اسلام د قوانينو خلاف نه شي کېدای .
دا حالت په هېڅ توګه په دې اوتو بوتو نه شي مبرر پيدا کولای چې غرب څه کوي او شرق څه کوي؟
دا حالت په هېڅ توګه مبرر او مجوز نه شي لرلای چې تېرو ۵۰ کلنو نظامونو او د ګردني د سر غلو او يا ابو غريب کې څه وشول او څه کول. دا عبدالرحمن خاني هم نه ده !

ملت، اسلاميت او قانونيت د عادل سيستم او نظام د جوړولو غوښتنه او أمر کوي. الله تعالى ددې أمر کوي !
د طالبانو موجوده سيستم او حاکميت، قضا او لنډ لنډ د لازم شرايطو پرته، خود کامه ګی، تماميت خواهی، لاقانونی او موجوده طرز فکر او ظرفيتو نشي کولای اسلامي عدالت او د اسلامي رسالت اداء کړي او دغه برخه کې په ښکاره دغه ديفکتو حاکميت پاتي راغلای او مسؤول دی .
د عدم مشروعيت او ناکميو بل ښکاره او مستند سند د ددوی د عدلي وزارت هغه روستی بې منطقه، غېر قانوني، غېر شرعي استدلال دی چې د ګوندونو او احزابو وجود جرم او ټول سياسي احزاب يې ممنوع او جرم اعلان کړل .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا ښکاره ده چې په انفرادي تحقيق او بررسی د موجوده سياسي ګوندونو ۸۰ په سلو کې د دوی د سياسي فعاليتو جواز د اداري حکم پر لنياد معلق کېدای شي او بايد هم شوای وای. اما پو سره ، جبروتی او کردکي منع کول پر اسلامي عدالت ملنډې وهل دي.

دا کار ېواځې او ېواځې جبروتي او خود کامه، تماميت خواه حاکميتونه کولای شي .

کل حزب بما لديهم فريحون. د اسلام شته مذاهب چې د اسلام مبديې نصوص او قواعد ورته رحمت ويلای، منکرېدل يې په عمدي ډول کفر ته رسېدلای شي: اختلاف أمتي رحمه- زما د أمت اختلاف رحمت دی .

مسلمان د ديني منابعو نه خپل برداشت لري او وارد مجتهد، دوه ثوابه لري، يو د اجتهاد ثواب او دوېيم د صواب بودن ثواب .

غېر وارد مجتهد چې په اخلاص او د شرايطو په لرلو اجتهاد کوي او صواب ته نه وي رسېدلای، د خپل اجتهاد ثواب اخلي او دوعا کوو چې الله ج دې له خطاء ورته تېرشي( ان شاء الله تعالی) .

نو دا به هم تېر شي او د ظلم او جبروت کاسه به نسکوره وي !

مخکې له دې چې ناوخته شي بايد خپلو تېروتنو او غلطو کړنو ته توجه او پام ‌‌‌‌‌پکار او د ګناه پېټی کمول په کار دی .

د طالب حاکميت دغه برخه کې په ښکاره په خطاء دی !

نور تفاصيل هم لرم !

و ما علينا الا البلاغ المبين

داکتر صلاح الدين سعيدی

۲۰۲۴/۴/۶

۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ